(١)

## د حج څخه وروسته باید څه وکړو؟

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمايلي:**« إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ»**ژباړه:« کومو خلکو چي وويل: "الله زموږ رب دی." - او بيا هغوی په دې باندي ثابت قدم پاتې شول. په يقيني ډول پر هغو باندي پرښتې نازليږي او هغو ته وايي: "مه وېرېږئ، غم مه کوئ او د هغه جنت په زيري سره خوښ اوسئ چي ستاسي سره یې وعده شوې ده.»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

هر هغه څوک چې د الله جل جلاله په مخلوقاتو کې حکمت ته وګوري نو ګوري چې ورځي مياشتي او کلونه تيريږي ورځي تيريږي او راتکراريږي دنياوي ژوند په شمير يو څو ورځي او کلونه دي او ټاکل شوی نيټه ټولو ته معلومه ده نو پدي کې د هغه چا لپاره عبرت پروت دي چې هغه نظر کوي فکر کوي او له هغه څخه عبرت اخلي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا» ژباړه:« همغه ذات دی، چي د هر هغه چا لپاره چي غواړي درس (پند) واخلي يا غواړي شکر ايستونکی شي، شپه او ورځ یې يوه د بلي ځای ناستي کړه.».

قبول شوی حج ددی لامل کيږي چې الله جل جلاله د انسان ټول گناهونه پرې معاف کړي حاجي بيرته داسی کيږي لکه چې د مور څخه نوی پيدا شوی وي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي دي: څوک چې حج وکړي او فسق و فجور ونکړي هغه داسی گرځي لکه چې د مور څخه نوي پيدا شوی وي نو عاقل انسان ته دا لازمه ده چې ددغه فضيلت څخه چې الله جل جلاله ورته ورکوي گټه پورته کړي او د ټولو گناهونو څخه لاس واخلي او الله ته په پاک زړه او په بشپړ اخلاص سره ځان وړاندی کړي.
حاجی ته لازمه ده چې د الله جل جلاله د نعمتونو احساس وکړي ځکه چې هغه ته يی دده فرصت ورکړو چې دغه لوي عبادت ترسره کړي او پدي باندي بايد حاجي پوه شي چې په هغه باندي دا لازمه ده چې د الله جل جلاله شکر اداء کړي چې دغه نعمت باندي يی نازولي دي او هميشه نيک کارونه وکړي ځکه چې نيکيو لپاره خاصه زمانه او ځاي معلوم ندي بلکي دا بايد همداسی دوام وکړي ترڅو چې د انسان ژوند باقي وي او تر هغه پوري چې د مکلفيت شرطونه ورباندي راځي همدا نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم کول په طاعاتو او عبادتونو باندي هميشه والی د الله جل جلاله د دغه وينا سره برابره ده چې فرمايي:« وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ » ژباړه:« او تر هغه وروستي ساعت (مرگ) پوري چې د هغه راتگ يقيني دی، د خپل رب بندگي کوه."» همدارنگه فرمايي:« فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ *وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ» ژباړه:« نو چې کله ته وزگار يې، نو په عبادت کښي تکليف باسه؛ * او د خپل رب لوري ته په مينه مخه کوه.» يعني مقصد يي دادي چې ته د عبادت او طاعت څخه بيکار شي نو په بل طاعت او عبادت باندي ځان مصروف کړه او مقصد يواځي د الله جل جلاله رضايت وگرځوه.
په نيکو کارونو باندی هميشه والي الله جل جلاله ته په اعمالو کي ترټولو نيک عمل همدا دی او همدارنگه د ښه پايلي يو ښه دليل هم کيدلی شي د

عايشي رضی الله عنها څخه روایت دی وایي چې د نبي کریم څخه پوښتنه وشوه چې الله جل جلاله ته کوم عمل ډېر خوښ دی هغه وفرمایل: هغه عمل چې همیشه وي اگر که هغه لږ هم وي نو د هغه چا لپاره د خوښي وي چې الله جل جلاله هغه پدي باندي بریالي کړی دی چې خپل طاعات ترسره کړي او ښه عملونه ترسره کړي او خپل اخلاق ښه کړي او د خلکو اړتیاوي پوره کړي او د هغوي ستونزي حل کړي او پخپله ټولنه او هیواد کې د خیر او ښیگڼي کارونه ترسره کړي.
کله چې یو مومن مسلمان الله جل جلاله پدي باندي بریالي کړ چې هغه د حج فریضه اداء کړي نو دا دطاعاتو پاي ندي بلکې هغه باید نور نیک کارونه ترسره کړي ترڅو الله ته ځان نژدی کړي لکه زیات عبادت او نفلونه کول همدارنگه لمونځونه روژه او د هیوادونو او د خلکو د گټو لپاره کار او د یتیمانو کفالت د ناروغانو پوښتنه او ځیني نور داسی ښیگڼي چې د هغه شان پري لوړیږي او د الله جل جلاله په نزد د هغه مرتبه لوړه شي د ابي هریره رضي الله نه څخه روایت دی چې وایی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله فرمایي: کله چې زما بنده په یو داسی کار باندي ماته ځان نژدی کوي نو هغه ماته ډېر خوښ دی لدی څخه چې ما څهورباندي فرض کړي دي او زما بنده همیشه ماته په نفلونو باندی ځان نژدي کوي تردي چې هغه زه خوښ کړم کله چې ما هغه خوښ کړو نو هرکله چې ماڅخه سوال کوي نو زه هغه ته هر څه وربخښمه او کله چې له ما څخه د گناهونو د مغفرت غوښتنه کوی نو هغه ورته بخښمه.
همدارنگه حاجي ته لازمه ده چې د خپل حج اغیزي د هغه په نیکو اخلاقو او همدارنگه په چال چلند او د زغم څخه په کار اخیستلو کې برڅیره شي او دا خپله د قبول شوي حج نښي هم دي د خلکو سره باید په نیکو اخلاقو باندي چال چلند وکړی او همدارنگه د هغوي سره د نیکو له لاري پرمخ ولاړ شی او هغه څه باید درک کړي چې تاڅخه د حج کولو څخه مخکښي

په تاکي کومي کوتاهياني موجودی وي هغه بايد لمنځه يوسي او خپل سلوک کې هم بايد تغير راوړي ترڅو د خپل کورني سره چې پلار مور همدارنګه خاوند يا بچيان وی د هغوي سره بايد نيک چلند وکړي او همدارنګه بايد صله رحمي زياته کړي او همدارنګه ددی پرته نور د خير او د ښيګڼي کارونه د ټولو خلکو سره ترسره کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ» ژباړه:« نېکي يوازي دا نه ده چي تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختيځ لوري ته واړوئ، يا لوېديځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چي انسان پر الله، د قيامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پيغمبرانو د زړه له کومي ايمان راوړي. او د الله په مينه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو، دروېزګرو او د مريانو په ازادۍ مصرف کړي، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي. او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره يې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کښي او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتيني او همدا پرهېزګار خلك دي.» حج بايد د حاجی په سلوک کې اخلاقي اغيزه پرېږدي ځکه چې حج داسی کوم ديني مراسم ندي چې کوم مقصد او هدف ونلري بلکي دا يو داسی عبادت دی چې د انسان د اخلاقو د ودي او ترقی لپاره رامنځته شوی دی ترڅو دغه اخلاق پری لوړ شي الله جل جلاله فرمايي:« الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ» ژباړه:« د حج مياشتي ټولو ته څرګندي دي، څوك چي په دې ټاکليو مياشتو کښي د حج نيت وکړي،

هغه باید په دې خبر اوسي چې د حج په دوران کې له هغه څخه څه شهواني عمل، څه ناوړه فعل او څه جنګ جګړه و نه شي. او تاسې چې څه نيك عمل کوئ الله پرې پوهیږي. د حج د سفر له پاره د لارې توښه درسره واخلئ؛ او تر هر څه ښه د لارې توښه پرهېزګاري ده؛ نو اې هوښيارانو! زما له نافرمانۍ څخه ډډه وکړئ.» او د حسن بصري رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې آيا د قبول شوي حج بدله جنت دی؟وی فرمایل: نښه يې داده چې هغه په دنيا کې پرهيزګاره وګرځي او په آخرت کې رغبت ولري بيا ورنه پوښتنه وشوه چې د قبول شوي حج بدله مغفرت دی؟ وی فرمايل: خو پدې شرط چې هغه ګناهونه پريږدي او هغه څه بد کارونه يې چې کول هغه بيا ترسره نکړي.
هغه عبادت چې د انسان په اخلاقو او د هغه د سلوک په جوړونه کې اغيزه ونلري نو هغه په دنيا کې هيڅ ارزښت نلري او په آخرت کې هيڅ ګټه لاسته نه راوړي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: آيا تاسو پوهيږي چې مفلس څوک دی؟ ورته وفرمايل شول په مونږ کې مفلس هغه څوک دی ای د الله رسوله چې پيسې او دنياوي متاع ونلري نبي کريم صل الله عليه وسلم ورته وفرمايل: مفلس زما په امت کې هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ په لمانځه او روژه او زکات يی ترسره کړي وي او رواستلي شي خو هغه ځينو ته ښکنځلی کړی وی او ځينو پوری يی تهمتونه پوری کړی وي او د خلکو مالونه يی خوړلي او وينې يې تويې کړی وي نو د هغه نيکياني به کميږي تردی چې هغه جهنم ته وغورځولي شي.
د هغه چارو څخه چې لازمه ده چې بنده بايد د هغه فکر ولري هغه ښه پايله ده او د هغه حقيقت دادی چې الله جل جلاله خپل بنده پدې باندې موفق کړي چې د وفات څخه مخکې ځان د هغه کارونو څخه لرې کړي چې الله جل جلاله پرې ناراضه کيږي او هغه ته د توبی لاره برابره کړي ترڅو د

ګناهونو څخه توبه وباسي او د خیر او ښیګڼي کارونه ترسره کړي او بیا هغه په همدي نیکیو باندی وفات شي.
دا چې انسان په دنیا کې د خپل عمل پوری تړاو لري نو نیکو کارونو ته د هغه لاسرسی او هغه ته تر هغه وخته پوری دوام چې مرګ ورته راشي نو دا خپله د ښي خاتمي یوه نښه ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته پدي هکله فرمایلي دی چې د ټولو اعمالو دارمدار په پایلي باندی دی، نو د همدي لپآره لازمه ده چې هر انسان باید هڅه وکړي ترڅو خپله پایله ښه کړي او الله جل جلاله ملاقات ته داسی ځان چمتو کي چې نیک کارونه یي ترسره کړي وي لکه چې قرانکریم هم مونږ ته ددی بیان کړی دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا» ژباړه:« نو څوك چې له خپل پروردګار سره د یو ځای کېدو په هیله وي، هغه ته په کار ده چې ښه عمل وکړي او په بندګۍ کي له خپل رب سره بل څوك شریك نکړي» څوک چې د الله جل جلاله څخه ویریږي او د هغه د اوامرو تابعداري وکړي او هغه څه چې الله جل جلاله منع کړي وي د هغه څخه ځان وژغوري نو الله جل جلاله به دا انسان پدي باندي بریالی کړی چې نیک کارونه ترسره کړي تردی چې د هغه څخه روح واخلي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدی هکله فرمایلي دي: کله چې الله جل جلاله د خپل بنده لپآره د خیر او ښیګڼي اراده وکړي نو هغه پدي باندي بریالی کوي چې نیک کارونه ترسره کړی بیا تری پوښتنه وشوه چې ای د الله رسوله الله جل جلاله څنګه خپل بنده استعمالوي؟ هغه وفرمایل: پدي باندی بریالی کوی چې د مرګ څخه مخکښي نیک کارونه ترسره کړي نو په ټولو اعمالو کې عبرت پایلي ته ده چې باید د خپلو اعمالو پایله ښه کړي څوک چې الله جل جلاله پدي باندي بریالي کړي چې نیک کارونه عبادت او طاعت ترسره کړي او د خیر او ښیګڼي کارونو باندی د دوام توفیق ورپه برخه کړي نو هغه خاتمه او پایله هم ښه کیږي او هغه به د جنتیانو د جملي څخه ګرځي

لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ » ژباړه:« پاتي شول هغه کسان چي نېکمرغه ثابت شي، نو هغوی به جنت ته لاړ شي او هلته به د تل لپاره اوسيږي، تر څو پوري چي اسمانونه او ځمکه بر قرار وي؛ مګر دا چي ستا رب نور څه وغواړي. پر هغو به د داسي ورکړي پېرزوينه وشي چي د هغې لړی به هيڅکله غوڅېدونکې نه وي.».
د حج څخه د نورو درسونو او د عبرتونه د جملي څخه بل هم دادی چي انسان بايد الله جل جلاله ته په مطلق ډول باندی ځان تسليم کړي او د اسبابو نيونه وکړي او انسان بايد پدي باندي باور وکړي چي ټولی چاری د الله په لاس کې دي او هر هغه څه چې الله جل جلاله اراده ورته کړي وي نو هغه هرومرو رامنځته کيدونکی دی الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالا مُّبِينًا» ژباړه:« هيڅ يو مؤمن او هيڅ يوه مومنه دا حق نه لري چي کله الله او د هغه رسول(ص) د کومي معاملې فېصله وکړي او بيا (د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلي هغي معاملې د فېصله کولو اختيار ولري. او څوك چي له الله او د هغه له رسول څخه سرغړاوی وکړي، نو هغه په څرګنده ګمراهی کښي وغـورځيدی.» بيا فرمايي:« مَّا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِن بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ» ژباړه:« الله چي د هر رحمت دروازه د خلکو لپاره پرانيزي، څوك د هغې بندوونکی نشته؛ او کومه چي هغه وتړي، د الله څخه وروسته بيا کوم بل څوك د هغې پرانستونکی نشته. هغه ځواکمن او د حکمت خاوند دی. »او بيا فرمايی:« وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ» ژباړه:« که الله تا ته کوم ډول زيان ورسوي؛ نو له هغه پرته بل څوك نشته چي تا له هغه زيان څخه وژغورلای شي. او که

هغه تا ته پر کومه ښېگڼه گټه در واړوي، نو هغه د هر څه وس واك لري. * هغه پر خپلو بندگانو پوره برلاسی، واکمن او د حکمت څښتن او باخبره دی.»، نو په بشپړ ډول سره الله جل جلاله ته غاړه ایښودل او تسلیمیدل د ایمان د نښو څخه گڼل کیږي او د اسلام بنستونه هم په همدی باندی ولاړ دي نو ترڅو چې دا ثابته شي نو لازمه ده چې انسان باید په الله جل جلاله باندي نیک گمان ولري هرکله چې انسان د الله جل جلاله په کارونو باندی چې انسان ته یي ټاکلي دي رضامندي ترلاسه کړي نو هغه د امن او د سکون او د اطمئنان احساس کوي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملگرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

کله چې حاجې د حج څخه راورگرځې او الله جل جلاله د هغه گناهونه معاف کړي وي د هغه سعی او کوښښ چې یی ترسره کړی دی د هغه اجر هم الله جل جلاله ورکوي نو باید حاجي دیته پاملرنه وکړي چې د خلکو صفتونو ته غاړه کینږدي حاجي باید دا احساس ونکړي چې دا لقب ورته ورکړل شو چې ورته ویل کیږي او نه هم پدی باندی د خلکو ترمنځ فخر وکړي بلکي حاجي ته لازمه ده چې کله د حج څخه راگرځي باید پرهیزگاره او عاجزي غوره کړي ځکه چې حج یو لوي فرضیه ده چې ډیر لوي ثواب لري او هرهغه څوک چې اداء کړي او د هغه مشقت په ځان ومني نو د هغه خوند په زړه کي احساس کوي او د هغه اغیزي باید د هغه په ژوند کې رابرڅیره شي ترڅو الله جل جلاله ته عاجزي غوره

کړي او د الله د بندګانو په وړاندې هم عاجزي غوره کړي خپل نفس کې باید کبر او غرور ونکړي او په نفس کې باید دنورو طاعتونو او عبادتونو نیت ولري ځکه هر هغه څوک چې طاعت او نیک کار په اخلاص او ښه نیت سره ترسره کړي دیته هڅول کیږي چې بل طاعت او نیک کار هم ترسره کړي او عبادتونه ترسره کړي نو همدا ده چې د یو عبادت څخه بل عبادت ته مخه کړي او همدارنګه طاعت د الله جل جلاله ترسره کړي ترڅو د احسان درجې ته ځان ورسوي او دا خپله د طاعت د قبلیدو د ښو د جملي څخه یوه ښه ګڼل کیږی.

الله جل جلاله ددی بیان کړی دی چې د ایمان خاوندان چې په خی او ښیګڼه باندې هڅه کوي تل ددی تمه لري چې باید دهغوي عملونه قبول نشي او ددی امید او لري چې ثواب تر لاسه کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ *وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ * وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ* أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ» ژباړه:« په حقیقت کښې هغه کسان چې د خپل رب له وېرې لړزیږي، * او هغه کسان چې د خپل رب پر ایتونو ایمان راوړي، *و هغه کسان چې له خپل رب سره هیڅوك نه شریکوي، * او د هغو دا حال دی؛ ورکوي، هر څه ورکوي (زکاتونه او خیراتونه) او زړونه یې له دې فکر څخه لړزیږي چې د خپل رب لوري ته زموږ ورګرځېدل دي، * همدا (خلك) د ښېګڼو خوا ته ځغستونکي دي او د سیالۍ په کولو د هغو تر لاسه کوونکی دي *» ابن کثیر رحمه الله پدي هکله فرمایي: چې هغوي سره د احسان ایمان او عمل باندې چې نیک کارونه سرته رسوي د الله څخه ویریږي او دده څخه ویریږي چې ددوي حال به بدل شي د ام المومنین عایشه رضي الله عنها څخه روایت دی وایی: چې نبي کریم ته وویل شو ای د الله رسوله! الله جل جلاله فرمایلي دي:« والَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ» ژباړه:« او د هغو دا حال دی؛ ورکوي، هر

څه ورکوي (زکاتونه او خیراتونه) او زړونه یې له دې فکر څخه لړزیږي چې د خپل رب لوري ته زموږ ورګرځېدل دي،» ددی څخه مقصد هغه څوک دي چې غلا کوي زنا کوي او یا هم شراب څښکي او هغه د الله څخه ویریږي؟ نبي کریم وفرمایل: نه د ابوبکر لوري ای د صدیق لوري ددی څخه مقصد هغه څوک دی چې لمونځ کوي روژه نیسي صدقه ورکوي خو بیا هم د الله څخه ویریږي.
نو واقعي مومن او مسلمان زیات عبادت او نفلونو ته اهتمام نه ورکوي بلکي دیته ډیر اهتمام ورکوي چې د هغه عمل باید قبول شي او ددغه عبادت اغیزي د هغه په ژوند باندی برڅیره شي الله جل جلاله د خپل نبي ته امر کړی دی چې په طاعت او عبادت کې هڅه او کوښښ وکړي هیڅ عمل باید کوچنې ونه ګڼل شي چې هغه پریښودل شي او نه هم یو عمل ډیر لوي وګڼل شي چې یواځې د هغه څخه تاو وی بلکي نبي کریم ددی خبر ورکړی دی چې په یو عمل باندی تعجب کول د هلاکونکي او د اعمالو د لمنځه وړلو لامل ګرځي د ابن عباس څخه روایت دی دی وایی نبي کریم فرمایلي دي: چې هلاکوونکې کارونه یا شیان دری دي: یو دا چې خپل نفس په نورو باندی غوره وګڼي او بل دا چې بخل وکړي او بل دا چې د خواهشاتو تابعداری وکړي.
ای الله مونږ ته توفیق راکړي چې ستا ذکر شکر او ښه عبادت دی ترسره کړو او ددی توفیق راکړی چې د طاعت او عبادت په لاره باندی روان شو.